(c) ketabton.com: The Digital Library



ستــــا دي ذكـــر پــــه كـلـمـــه كنبـي دَجهـــان
هـــم يــــاد شــوي ئــي دُنيــــا كنبـي پــــه اَذان
ذكـــر ستـــا دي ډيــر اُوچــت لـــه هـر اَسـمــانــه
اے دَ دوجهــــان حسيـــنـــــه مهـــريــــانـــــه!ﷺ
ستــــا دي ذكـــر در پــــه در پــــه دي دُنيــــا كنبـي
لـوئـي يـاديـږي اے رسولـه! ﷺپـه هـرخوا كنبـي
ذكــــر ستـــــا دي ډيـــر اوچــــت دَلامـــكـــانـــه
اے دَ دوجهــــان حسيـــنـــــه مهـــريــــانـــــه!ﷺ
ستـا دي ذكـر پـه جـمـاعـت كنبـي او پـه كور كنبـي
ستـــا دي ذكـر پــه هـرځـائـے اوپــه هـرلـور كنبـي
ستــــا مــقـــام دي ډيـــر اُوچـــت اے قـدردانـــه!
اے دَ دوجهــــان حسيـــنـــــه مهـــريــــانـــــه!ﷺ
ستـــا ذكـرپـــه قـراٰن كنبـي ځـائـے پـه ځـائـے هـم
ستـا دي ذكـرتـول جهـان كنبـي ځـائـے پـه ځـائـے هم
اے مـحبـوبـــه! پـــه الـلّـــه بـانـدي ډيـر ګـرانـــه!
اے دَ دوجهــــان حسيـــنـــــه مهـــريــــانـــــه!ﷺ
ستــــا دي ذكـــر اے نبـــى پــــه لامـــكـــان كنبـي
مـــا احـــمـــدعـــلـــى يـــاد كـړي ئـي مـردان كنبـي
دَرحـــمـــت نـظـــر دي لـــر نـــهٔ كـړي زمـــانـــه
اے دَ دوجهــــان حسيـــنـــــه مهـــريــــانـــــه!ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیـدلـے چـابــه نــهٔ وی بـل حَسیـن داسـے افسـر
بهتــرو نــه بهتـر ﷺ زمـونـږه پـاك رسـول ﷺ دے
لیـدلـے چـابــه نــهٔ وی نــه پــه حُسـن او جـمـال
لیـدلـے چـابــه نــهٔ وی لاثــانـی بـل لامثــال
لیـدلـے چـابــه نــهٔ وی بـل دُنیـا کښې پـه نظـر
بهتــرو نــه بهتـر ﷺ زمـونـږه پـاك رسـول ﷺ دے
لیـدلـے چـابــه نــهٔ وی بـل انســان داسـے پیـدا
مـمتــاز پــه هــرصـفـت سـره مشـفـقــه رهـنـمـا
لیـدلـے چـابــه نــهٔ وی بـل ښـائستــه داسـے قـمـر
بهتــرو نــه بهتـر ﷺ زمـونـږه پـاك رسـول ﷺ دے
لیـدلـے چـابــه نــهٔ وی بـل حسیـن پــه نُـور رڼـا
لیـدلـے چـابــه نــهٔ وی بـل ښـائستــه پـه هـر ادا
لیـدلـے چـابــه نــهٔ وی داسـے نُـور دَبـره نـمـر
بهتــرو نــه بهتـر ﷺ زمـونـږه پـاك رسـول ﷺ دے
لیـدلـے چـابــه نــهٔ وی یـو بشـر داسـے رحـمـت
لیـدلـے چـابــه نــهٔ وی مـجـسـمــه مـحـبـت
لیـدلـے چـابــه نــهٔ وی داسـے نُـور دَ هـرسـحـر
بهتــرو نــه بهتـر ﷺ زمـونـږه پـاك رسـول ﷺ دے
لیـدلـے چـابــه نــهٔ وی بـل میـلـمــه دَ لامـکـان
احـمـدعـلــی خبــره مـخـتـصــر کـړه دَ بیــان

